**ځوړتیا او لوېدل: اسلامپالو او پښوانیو مجاهدینو د افغانستان په پارلماني ټاکنو کې څنګه ماتې وخوړه؟**



د افغانستان په ۲۵ ولایتونو د پارلماني ټاکنو د لومړیو پایلو اعلان ښيي، چې د ټاکنو په بریالیو څېرو کې په اسلامي حزب، پخوانیو مجاهدینو او اسلامپالو پورې اړوند کسان ډېر لږ لیدل کېږي او د بریالیو کسانو ستره برخه پخواني وکیلان او نوې څېرې دي، چې تجاران، د امریکایانو قراردادیان، ځوانان، تکنوکراتان او ډېر کم د رهبرانو زامن پکې شامل دي.

هغه څه چې د ټاکنو له لومړیو پایلو په ډاګه کېږي دا دي چې سیکولر قشر او هغه کسان چې مذهبي مخینه او په اسلامي ګوندونو کې غړیتوب او په ټولنه او خلکو کې موقف نه لري، په ټاکنو کې بریالي شوي او له اسلامپالو عناصرو او پخوانیو مجاهدینو څخه مخکې شوي دي. دغه ناکامي دغه ټکی په ښکاره بیانوي چې د پخوانیو مجاهدینو د محبوبیت کچه او ټولنیز موقف د ځوړتیا په حال کې دی.

په دې کې شک نشته چې په افغانستان کې د ټاکنو ستره ځانګړنه درغلي، بدنامي او رسوایي ده او دا موارد په پارلماني ټاکنو کې بشپړ ښکاره وو، چې یو نابالغ ماشوم هم وربانديې پوهېږي. خو دولت هم هڅه وکړه چې له خپلو په لاس کې شته امکاناتو او د مقابل لوري له سیاسي غفلت څخه په ګټې اخیستنې د خپلو رقیبانو د بریا مخه ونیسي، چې ستره برخه یې پخواني مجاهدین او په اسلامي ګوندونو پورې اړوند کسان وو. دولت دا مهندسي په ناامنه سیمو کې د ټاکنو د نه ترسره کېدو، تخنیکي او بشري ستونزو، د رایو د بایومتریک مسئلې، د ځانګړو ساحو رایې قرنطین کولو او په پایله کې د یوې ټاکلې حوزې د رایو باطلولو تر نامه لاندې ترسره کړه.

په پارلماني ټاکنو کې د اسلامپالو او پخوانیو مجاهدینو ماتې یو تصادف نه دی او دا یوازې د ټاکنو ډګر نه دی چې دوی پکې ناکام شول، بلکې په ډېرو ډګرونو کې یې د افغانستان د دولت او د هغه د نړیوالو ملاتړو لخوا درنې ضربې لیدلې، چې جبران یې ډېر سخت دی.

هر د فکر او بصیرت خاوند غواړي وپوهېږي، چې د پخوانیو مجاهدینو پر سر څه بلا راپرېوته، چې داسې منزوي شول او د کار او سیاست واګې یې له لاسه ووتې؟

پر دغه رمز د پوهېدو لپاره باید هغو ورځو ته سر ورښکاره کړو، چې پخواني مجاهدین د افغانستان د سیاست په راس کې وو، په خلکو کې یې ځای درلود او په زړونو کې محبوبیت. خلکو له ډېرې مینې د دوی نومونه پر خپلو اولادونو اېښودل. د جهاد پر وخت د

مجاهدینو د محبوبیت، شهرت، عزت او بري لامل یوازې یوه ټکي ته ورگرځېده، هغه هم پر اسلام منگولې لگول او د اسلامي ارزښتونو پالل وو. دغو ارزښتونو هغوی ته په نړیواله کچه شهرت ورکړ او د نړۍ په نورو ځایونو کې د ډېرو مبارزانو الگو شول.

خو له ۲۰۰۱ وروسته هغوی ستراتیژیکه تېروتنه وکړه او د قوت، قدرت او عزت منبع یې چې په اسلام او د جهاد په ارزښتونو کې نغښتې وه، د جهاد د مبارزې په ډگر کې پرېښوده، د سیاست په ډگر کې یې اسلامي ارزښتونه گوښې ته کړل او د ډیموکراسۍ لار یې غوره کړه. ته وا اسلام د سیاست او سیاسي چارو د پر مخ وړلو لپاره حللاره او ارزښت نه لري. دلته یې نو لوبه له لاسه ووته او داسې تېروتنې یې وکړې، چې تر اوسه لا دوام لري. داسې تېروتنې چې د افغانستان د خلکو څو کلنې مبارزې او سربښندنې یې د سیاست په ډگر پوپنا کړې.

دوی دا درک نه کړه چې یوه مجاهد ته د ډیموکراسۍ په ډگر کې سیاسي مبارزه ناممکنه ده او د جهاد له ارزښتونو سره په دغه ډگر کې مبارزه نه شي کېدی. په حقیقت کې ډیموکراسي د تکنوکراتانو، سیکولرانو او ډیموکراتانو د لوبې ډگر دی نه د مجاهدینو. ډیموکراسي نظام د جهاد له اساسي ارزښتونو سره په ټکر کې دی، ځکه جهاد د الله سبحانه وتعالی د دین د حاکمیت لپاره دی؛ خو په ډیموکراسۍ کې خلک د خلکو لپاره قانون جوړوي او حاکمیت کوي.

نو د سیاسي تېروتنو لړۍ یې د بن له کنفرانسه پیل شوه، چې معامله یې وکړه او امریکایي نظم ته ورگډ شول او گومان یې کاوه چې تل به د امریکا ملاتړ ورسره وي؛ خو له دې غافل وو چې د وسیلې په توگه کارېدلې دي. دا کار یې د ډېرو کسانو په تعبیر د افغانستان د میلیونونو شهیدانو او د جهاد د رهبرانو له آرمانونو سره خورا ستر خیانت گڼل کېږي.

د لنډمهاله او انتقالي حکومت پر مهال پر لوړو دولتي څوکیو، باد راوړو بهرنیو مرستو او عیش وعشرت بوخت شول، چې ډېر دوام یې ونه کړ. د غفلت او په ناسم ډگر کې د مبارزې په پایله کې د خلیلزاد په مکارانه سیاستونو یو په بل پسې د جنگسالارانو په نامه د قدرت له گدۍ گوښه کړل شول، یو شمېر یې په مرموزه بڼه ووژل شول او ځینې نور په کور کېنول شول. یو بل قشر چې لا تر اوسه په سمبولیکه بڼه په دولت کې په کار بوخت دي، اجرایي قدرت نه لري، مجبور دي چې د دولت په مسیر او د امریکایانو پر اجنډا وڅرخي.

په تېرو ۱۷ کلونو کې د دوی سطحي کارنامه د دې لامل شوه چې له یوې خوا خپل واقعي او د خلکو قدرت له لاسه ورکړي او خلک پر دغه قشر خپل باور له لاسه ورکړي او له بلې خوا له دې امله چې په ناسم ډگر کې یې مبارزه وکړه، له سیاسي نظره یې هم کومه بریا تر لاسه نه کړه او په لاس کې شته جوړښتونه یې هم له لاسه ووتل. لکه څنگه چې د ملي یووالي حکومت په دوره کې ډېری ملکي او نظامي بنسټونه د اصلاحاتو او ځوانولو په نامه له اسلامپاله او مجاهدو عناصرو او څېرو پاک شول او په بدل کې یې سیکولر عناصر ځایناستي شول.

له داخلي نظره هم دا قشر تیت وپرک او ټوټې ټوټې شو، دا چاره لامل شوه چې ځینې یې د بهرنیو استخباراتو لمن ونیسي او له بهرني نظره یې هم د افغانستان په سیاست کې خپل ځای داسې کسانو ته پرېښود، چې تر څو کلونو مخکې یې هېڅ ارزښت نه ورکاوه او هغوی یې غربیپال، بې‌رېښې تکنوکراتان او ټولنیز موقف نه درلودونکي معرفي کول. خو همدا بې‌رېښې قشر نن د پارلماني ټاکنو په ډگر کې بریالی شوی، ځکه سیکولران په داسې ډگر کې لوبه کوي، چې له خپلو منل شوو ارزښتونو سره یې سمون لري. برعکس پخواني مجاهدین په داسې ډگر کې مبارزه کوي چې له فکري، عقیدتي او احساسي نظره خوار کوچینی ارتباط نه ورسره لري. په پایله کې اوس مجبور دي چې د همدغه بې‌رېښې قشر حاکمیت ومني او تر دې بده لا دا چې یو شمېر نورو لا تر اوسه هم لازم عبرت نه دی اخیستی او په ولسمشرۍ ټاکنو کې د چوکۍ او مقام اخیستو لپاره له بې‌رېښې او تکنوکراتو انسانانو سره د معاملې او جوړښت په لټه کې دي، چې که هغوی بیا په افغانستان کې واک تر لاسه کړي، د پخوانیو مجاهدینو قشر به لا انزوا ته کش کاږي.

البته داسې فهم نه شي چې د ليکوال موخه دا ده، چې په پارلماني ټاکنو کې د پخوانيو مجاهدينو بريالي کېدل د دوی د بري او سم سياست نښه ده، نه هېڅکله داسې نه ده، بريالي کېدل يې هم په ډيموکراتيک نظم د دوی ذوب کېدل ښيي. اساسي خبره دا ده چې دغه قشر خپلې اصلي ستونزې ته متوجه شي او له تېروتنې لاس واخلي. په واقعيت کې د پخوانيو مجاهدينو، اسلامي گوندنو او اسلامپالو ستونزه دا ده چې تل يې د فکر او سياست په ډگر کې بايللې او دا بايلل يې له دې امله دي چې په اشتباه ډگر کې مبارزه کوي. نو تر کله چې دا قشر درک نه کړي چې د مبارزې ډگر يې اسلام او د اسلامي ارزښتونو حاکمول دي، په بله هره مبارزه او سيالۍ کې به ماتې خوري.

نو اسلامي امت په ځانگړې توگه د ټولنې متنفذينو او قدرتمن قشر ته اړينه ده چې اسلام په ټولو ډگرونو کې د خپل فکر او سياست اساس وټاکي او پر اسلامي ارزښتونو د منگولو په لگولو د خلکو واقعي قدرت لاس ته راوړي. قدرت ته له رسېدو وروسته هم په کورنيو اختلافونو او د نفس هوا کې ښکېل نه شي، بلکې له خپل قدرته د اسلامي نظام د حاکميت او پلي کولو لپاره گټه واخلي، ترڅو د تاريخ پاڼه واړوي او برى او دنيوي او اخروي عزت يې په برخه شي. له دې پرته بله هره لار يې قوت کمزوری کوي او د مال، سر، عزت او ناموس دښمن يې پر سياسي برخليک حاکموي.

په واقعيت کې په امريکايي-ډيموکراسي نظام کې عزتمن بې عزته او بې عزته عزتمن کېږي او په افغانستان کې د ډېرو ډيموکراتيکو پروسو پايلې دا ټکی په ښکاره ثابتوي. نو ځای لري چې د فاروق اعظم رضی الله عنه دا وينا د خپلو سياسي مبارزو پر لوحه ولگوو، چې ويل يې: «موږ جاهل قوم وو، چې الله سبحانه وتعالی د اسلام په وسيله عزت راکړ او هرکله چې دا عزت بل ځای ولټوو، الله سبحانه وتعالی مو خواروي.»

**مصدق سهاک**

**د حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر غړی**